# حَبلُ‌المـَتین (1): په مسلمانانو کې د سیاسي پوهاوي اړتیا




(ژباړه)

﴿**يُخَادِعُونَ اللّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَمَا يَخْدَعُونَ إِلاَّ أَنفُسَهُم وَمَا يَشْعُرُونَ**﴾ [بقره: ۹]

*ژباړه: غواړې چې الله اومومنان وغولوي؛ په داسې حال کې چې له ځان پرته بل څوک نه غولوي، خو نه پوهېږي.*

يُخَادِعُونَ کلمه د تېر اېستنې او يا غولونې په معنی ده، چې د مُخادعه او خِداع له مصدر څخه اخيستل شوې. په چل او فرېب نور له خپلو موخو څخه د ګرځولو په معنی ده يا د نورو د دوکې لپاره د هغه څه خلاف ويلو ته وايي چې په زړه کې يې دي.

فاسدو، رياکارو، کافرو او د دوی ملګرو ته ناشونې ده، چې الله سبحانه وتعالی ته فرېب ورکړي؛ ځکه الله سبحانه وتعالی هغه ذات دی، چې پر پټو کارونو پوهېږي او پر هغه څه چې په زړونو کې تېرېږي او په فکرونو کې خطور کوي، خبر دی. خو دا خلک مسلمانان غولولی او تېر ایستلی شي.

يو له هغو خطرناکو برخو چې اسلامي امت يې د نړۍ له رهبری انحطاط او زوال ته راټيټ کړی، د فکر او سياسي پوهاوي په برخه کې کمزورتيا ده. په اوسنۍ نړۍ کې سياست، چې مشري يې کافر او غدار غرب په غاړه لري، د «ماکياولی» د افکارو پر بنسټ چې پر چل او فرېب ولاړ دي، پر مخ ځي. په داسې فضا کې د صداقت او فضيلت ارزښتونه ځای نه لري. له همدې امله، د اسلام دښمنان د اسلامي امت د فريب لپاره له هرې وسيلې کټه اخلي تر څو مسلمانان د سياست او ژوند په بېلابېلو ډګرونو کې وغولوي او له هغوی څخه په يو ډول باج واخلي او خپله ولکه ټينګه کړي.

د دې تر څنګ نظامونه، سیاستوال، دولتي چارواکي او واکمن پانګوال، خلک په دروغجنو وعدو او خوږو خبرو غولوي. دا مسئله یې د ورځنیو کارونو یوه برخه ده او کلونه کېږي چې په اسلامي امت کې د دغه شیطاني فریب او نیرنګ څرخ تاوېږي؛ خو اوس هم اسلامي امت له یوې سوړې څو ځله چیچل کېږي، خو بیا یې هم عبرت نه دی اخیستی.

په داسې سخت ژوند کې، چې له هرې خوا په اسلامي امت مصیبتونه راځي، د نړۍ د سیاسي واقعیتونو سم او ژور درک او د سیاسي فکر وده د مرګ او ژوند حیثیت لري.

ځګه ناسم سیاسي تحلیلونه د دې لامل کېږي چې خلک دروغ او غولونکې مسایل ومني او په بې خبرۍ کې د حکامو د چټلو او خطرناکو سیاستونو ملاتړ وکړي، چې په پای کې ډېر زیانونه را منځ ته کوي او د دښمن د ځواکمنېدو لامل کېږي. د یو شمېر مسلمانانو او مخلصو دعوتګرانو د سیاسي ناپوهۍ له امله چې سیاسي تجربه یې خامه ده، ډیری وخت امت هڅوي تر څو په سیمه ییزه، ملي او نړیواله کچه د مفسدو سیاستوالو او غولونکو سیاسي قضیو ملاتړ وکړي، چې په پای کې دغه ملاتړ د دښمن پر ژرنده اوبه ورسیخوي.

لاندې داسې بېلګې راوړو چې اسلامي امت یې له سیاسی امله ګمراه کړی:

**لومړی بېلګه:** هغه ویجاړوونکي جګړه چې امریکا او متحدینو یې له ۲۰۰۱م کال وروسته په افغانستان کې پیل کړې ده، اوس یې هم ځینو ته ډېر اړخونه پوښلي او درک یې ورته پېچلی دی. ډېری فکر کوي چې د امریکا حضور له «تروریزم او افراطیت» سره د مبارزې لپاره دی او دا حضور په افغانستان کې د سیاسې ثبات او ټولنیزو اسانتیاوو لامل کېږي. دا ناسم تحلیل د دې لامل شوی چې یو شمېر غولول شوي، د امریکا او ناټو د سیاست د پلي کولو لپاره د مهرې په توګه وکارول شي او د قضیې له عمقه بې خبره د استعمار لپاره کار وکړي. د دې تر څنګ ناسم تحلیل د دې لامل شوي چې د امریکا یو شمېر لاسپوڅي چارواکي، د وراسته نظام او ناکامو پروسو د ښو او خوښیو ډکو ورځو د راتګ په تمه ملاتړ وکړي. په داسې حال کې چې، امریکا افغانستان د یوې نظامي پروژې په توګه د خپلو ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړلو لپاره استفاده کوي او هغه ځینې سطحي فکران چې د ثبات، امنیت او سوکالی فکر کوي، د افغانستان لپاره د امریکا په ستراتېژۍ کې نشته.

**دویمه بېلګه:** په دې ورستیو کې پر پاکستان د امریکا فشارونه ډېر شوي. په افغانستان کې د امریکا ځیره خواره پر خلکو دا دروغ تړي، چې هڅې یې د پاکستان د منزوي کولو لپاره لاسته راوړنې لري او توانېدلي چې د پاکستان رول په سیمه ییز سیاست کې کمرنګه کړي. په داسې حال کې، چې د امریکا سیمه ییزه برنامه دا ده چې د سیمې هېوادونه د هند پر محور راټول کړي او د چین پر وړاندې یې استفاده کړي. دې موخې ته د رسېدو لپاره اړتیا ده

چې پاکستان له داخلي اړخه کمزوری او له سیمه ییزو سیاستونو منزوي شي او د دغه هېواد د اردو پام د کشمیر ازادۍ او د هند پولې ته د خپلو او افغانستان د مسلمانانو پر وړاندې جګړې ته واړوي.

**درېیمه بېلګه:** هغه مفکوره چې وايي امریکا او ایران د یو بل دښمن دي، د دې لامل شوې چې یو شمېر کسان د ایران او امریکا له اصلي اړیکو غافل شي. په حقیقت کې، د ایران رژیم د اسلامي انقلاب په نامه له انقلاب وروسته امریکا ته یو نږدې او ورپورې تړلی رژیم دی. د بي بي سي شبکې د افشا کړو اسنادو له مخې د ایران رهبري امریکا ته د دې ادعا ښکاره مصداق دی. سربېره پر دې، د ایران دولت له امریکا سره د افغانستان او عراق په ښکېلاک کې هر اړخیزه مرسته کړې ده. هغه بندیزونه چې پر ایران لګول کېږي، دروند بار یې خلک اخلي، نه اخوندان او لوړ پوړي چارواکې.

**څلورمه بېلګه:** زیات شمېر فکر کوي چې په سوریه کې روسیه او امریکا یو د بل پر وړاندې ولاړ دي او روسیه د بشارالاسد د نظام ملاتړ کوي او د امریکا په مقابل کې د اسد د رژیم پر وړاندې د انقلابیانو ملاتړ کوي. دا سمه ده چې د امریکا په ملاتړ د ترکیې او ایران په واسطه یو شمېر ډلې د شام د انقلابیانو د بدنامۍ لپاره جوړې شوې دي او په ښکاره د نظام پر وړاندې جنګېږي؛ خو دقیق تحلیل دا دی چې امریکا او روسیه د سوریې په قضیه کې یو له بل سره مرسته کوي او هم نظره دي او د ایران د دولت، ترکیې، بشارالاسد او حزب الله په څنګ کې د سوریې د خلکو د واقعی او خالص اسلامي انقلاب پر وړاندي په یو کرښه کې ولاړ دي او هغوی شکنجه کوي.

**پنځمه بېلګه:** زیات شمېر مسلمانان له نړیوالو بنستونو لکه: د ملګرو ملتونو سازمان، د پیسو نړیوال صندوق، نړیوال بانګ، نړیوال سوداګرۍ سازمان او داسې نورو څخه د خیرغوښتنې او نېک لید لري. دغه ناسم او غیرې سیاسي لید د دې لامل شوی چې مسلمانان د دغو بنسټونو غړیتوب تر لاسه او د پالیسیو پیروي یې وکړي. په اسلامي خاورو کې دغو بنسټونو افراد د مشاورینو په توګه ځای پر ځای کړي او تر ټولو خطرناک دا چې خپلې قضیې دغو بسټونو ته راجع کړي. لکه څنکه چې د اسلامي ډلو په شمول یو شمېر ډلې خپل اختلافونه د ملګرو ملتونو سازمان ته راجع کوي. په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو سازمان او ټول نړیوال سازمانونه د لویو استعماري قدرتونو د لاس الې دي او د همدغو سازمانونو په واسطه یې نړۍ په خپله استعماري خېټه کې نیولې ده او حکومت کوي.

دا ډول ناسم تحلیلونه موږ ناسمو پایلو ته رسوي، چې په پای کې امت د داسې پالیسیو ملاتړ کوي چې د امت ګټو ته زیان رسوي. هغه څه چې په اوسني وخت کې مسلمانان ډېره اړتیا ورته لري، یو مخلص سیاسي رهبر، یو باخبره حاکم (خلیفه)، چې سیاسي قضیې په غور تحلیل کړي او داسې پالیسۍ غوره کړي، چې د امت ګټې تضمین کړي او د مسلمانانو د وینې او ناموس دفاع وکړي.

نو دا پر موږ ده چې د خبرونو او سیاسي واقعیتونو په دوامدار تعقیب، د اسلام له مبدا څخه د سیاسی قضیو په لیدو او د قضیو له تحلیل څخه د سیاسیې اوضاع سمې پایلې ته ورسېږو. تر څو چې بالاخره د پوهاوي داسې کچې ته ورسېږو چې د کافر او فریبکار غرب منافقت خنثی او بېرته یې دوی ته وروګرځوو. په دې لاره کې الله سبحانه وتعالی له موږ سره دی.

**مصدق سهاک**

**۲۰۱۷م، د جولای ۲۹مه**